# بی توکل اوبی تکل

ځان طبیب بولي ، درمل ورسره نه شته
د علاج او ټکور ، چل ورسره نه شته

يم حيران د شاعر ، داسی شاعری ته
ځان شاعربولي ، غزل ورسره نه شته

باغوان داسی ګلبوټي باغ ته راوړي
اغزي ډيرلري خوګل ورسره نه شته

مُلاهروخت ، بل ته ښه اوبد ورښيي
خوپخپل ګفتارعمل ورسره نه شته

شيخ خپل ځان له تولوخلکوديندارډبولي
خوپه خدای باندی توکل ورسره نه شته

هرسړي ته ځان ترنوروهوښيارښکاري
خود ښه اوبد اټکل ورسره نه شته

**دلته هرسړی په تکوتوروشپوکی**

**په لاردرومي خومشعل ورسره نه شته**

**ډیرد یومنزل په لوری، ورتلل غواړي**

**خوتنها روان دي ، مل ورسره نه شته**

**له ظالمه به ، مظلوم څنګه خلاصیږي**

**چی د هیڅ قیام تکل ورسره نه شته**

**الحاج الهام الدین قیام**

**والدورف/جرمنی**

**۱۴. ۱۰ .۲۰۱۴**